د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱۱/ شعبان المعظم /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۰/ سلواغې/۱۴۰۴هـ، ش**

# د شعبان المعظم (برات) میاشتې، په تیره د پنځلسم شعبان فضائل او اعمال

**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم**

إنَّ الحمدَ للهِ نَحْمَدُهُ ونَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلا هَادِيَ لَهُ، وأَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وأنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ) صلَّى اللهُ عليهِ سلَّمَ.

أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ).آل عمران:( ۱۰۲)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

د غوره میاشتو له جملې څخه یوه هم د شعبان المعظم میاشت ده، الله تعالی د شعبان المعظم میاشتې ته فضیلت ورکړی دی او ددې میاشتې مرتبه یې لوړه کړې ده، د همدې وجې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دې میاشت کې په خصوصي توګه ټوله میاشت روژه نیوله ؛ ځکه چې په دې میاشت کې د بندګانو اعمال رب العالمین ته وړاندې کیږي.

په حدیث شریف کې راځي عن عَائِشَةَ - رضى الله عنها -فَقَالَتْ وَلَمْ أَرَهُ صَائِمًا مِنْ شَهْرٍ قَطُّ أَكْثَرَ مِنْ صِيَامِهِ مِنْ شَعْبَانَ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ. صحيح مسلم (۳/ ۱۶۱)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې ما ندی لیدلی چې نبي علیه السلام دې د شعبان څخه په بله میاشت کې زیات روژه وي ، نبي علیه السلام به په شعبان میاشت کې ټوله میاشت روژه ؤ.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ). سنن الترمذي (۳/ ۱۱۳)، سنن النسائي (٤/ ۲۰۰)

ژباړه: د حضرت ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایې ما نه دی لیدلی نبي علیه السلام چې هغه روژه نیولي وي دوه میاشتې پرله پسې علاوه د شعبان او رمضان میاشتو څخه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي چې نبي علیه السلام د شعبان المعظم میاشت روژې د رمضان المبارک د روژو پورې نیولې.

عن عَائِشَةَ تَقُولُ كَانَ أَحَبَّ الشُّهُورِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يَصُومَهُ شَعْبَانُ ثُمَّ يَصِلُهُ بِرَمَضَانَ). سنن أبى داود- (٢/ ٢٩٩)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه فرمايې چې هغه ډېره غوره مياشت نبي عليه السلام ته چې په هغې کې روژه ونيسي هغه د شعبان مياشت وه بيا به يې روژه وصل کړله د رمضان المبارک روژو سره.

په يو بل روايت کې راځي عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يَصُومُ مِنَ السَّنَةِ شَهْرًا تَامًّا إِلاَّ شَعْبَانَ يَصِلُهُ بِرَمَضَانَ. سنن أبى داود-ن (٢/ ٢٧٢)

ژباړه: د ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی هغه د نبي عليه السلام په هکله وايې نبي عليه السلام به په کال کې کامله مياشت (نفلي) روژې نه نيولې پرته د شعبان څخه ، چې بيا به نبي عليه السلام د شعبان روژې د رمضان په روژو پورې وصل کړې.يعنې د رمضان د روژو پورې به يې د شعبان روژې نيولې.

علماء کرام وايي چې د رمضان المبارک څخه د شعبان روژې نيول داسې دي لکه د رمضان روژو لپاره تمرين کول او مخکې له دې چې رمضان داخل شي مسلمان به ورته ځان چمتو کړی وي او د رمضان د روژو مشقت لپاره به يې ځان اماده کړی وي او د روژو په نيولو به يې ځان عادت کړی وي.

د شعبان روژې نيول د رمضان د روژو لپاره مقدمه ده او د شعبان په روژو کې به په هغو عباداتو پيل کوي کوم چې په رمضان کې انجاموي لکه روژې نيول او د قرآن کريم تلاوت ترڅو نفس د رمضان په عبادت کې په خوښۍ او خوشحالۍ سره داخل شي .لطائف المعارف :( ص:١٩٦)

د شعبان د روژو د حکمت په اړه نبي عليه السلام په يو حديث شريف کې داسې فرمايلي دي: عن أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ أَرَكَ تَصُومُ شَهْرًا مِنْ الشُّهُورِ مَا تَصُومُ مِنْ شَعْبَانَ قَالَ:« ذَلِكَ شَهْرٌ يَغْفُلُ النَّاسُ عَنْهُ بَيْنَ رَجَبٍ وَرَمَضَانَ وَهُوَ شَهْرٌ تُرْفَعُ فِيهِ الْأَعْمَالُ إِلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ فَأُحِبُّ أَنْ يُرْفَعَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ» سنن النسائي الكبرى (٢/ ١٢٠)، مصنف ابن أبي شيبة (٢/ ٥١٤)

ژباړه: د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی ،هغه وايې چې ما وويل ای دالله رسوله! ما تاسو نه ياست ليدلي چې تاسو دې د پوره مياشت لکه د شعبان د مياشتې د روژو په شان روژې نيولي وي. (ددې څه فلسفه ده؟) نبي عليه السلام وفرمايل: دغه دشعبان يو داسې مياشت ده چې خلک ورڅخه غافله وي د رجب او رمضان ترمنځ او دا (شعبان) داسې مياشت ده چې پورته کولی شي په دې مياشت کې عملونه رب العالمين ذات ته، نو زه خوښه ګڼم چې پورته کړل شي زما اعمال (الله تعالی ته ) په داسې حال کې چې روژه اوسم.

په پورته ذکر شوي حديث شريف کې د شعبان د ټولې مياشتې يا اکثره مياشتې روژې نيولو حکمت نبي عليه السلام په واضحه ټکو بيان کړی دی او هغه د خلکو غفلت ددې مياشتې د فضيلت څخه او بل داچې په دې مياشت کې د بنده ګانو د ټول کال اعمال رب العزت ته وړاندې کيږي نبي عليه السـلام وفرمايل ما دا خوښه وګڼله چې په داسې حال کې زما اعمال الله تعالی وړاندې کړل شي چې زه په کې روژه يم.

حافظ ابن رجب په لطائف المعارف کې ددې حديث په شرح کې ليکي: نبي عليه السـلام د اسـامه بن زيد په حديث کې دوه مهمې موضوع ګانې ذکر کړې دي:

**الف:شعبان مغفوله میاشت ده.**

یوه داچې شعبان هغه میاشت ده، چې خلک ورڅخه غافله دي په دې کې اشاره ده دیته چې د شعبان میاشت ددوه عظیمو میاشتو په منځ کې واقع شوی ده چې یوه یې د محرمو میاشتو له جملې څخه ده اوبله د رمضان المبارک میاشت ده، نو خلک رمضان ته متوجه وي او له دې میاشتې څخه غافله شي او د غافل شوي میاشتې په ژوندی کولو کې ډیری فائدې دي.

یوه فائده داده چې د مغفول شوی میاشتې په ژوندی کولو کې پټوالی وي او دنوافلو پټ کول له ښکاره کولو څخه بهتر دي، په ځانګړې توکه روژه، ځکه نفلي روژه یو پټ راز دی په مابین د بنده او د رب ترمنځ. ددې وجې نه ځینو سلفو علماوو څلویښت کاله روژه ونیوله او هیڅوک ورباندې خبر نشو.

دوهمه فائده: د مغفول شوې میاشتې په ژوندي کولو کې سختي او مشقت زیات وي او بهترین عمل هغه دی چې په کولو کې یې مشقت زیات وي او ددې علت دادی چې انسانان د هغه څه پیروي کوي چې په سترګو یېویني چې نور خلک یې کوي کله چې د خلکو بیداري زیاته شي او طاعت یې هم زیات شي ، نو نور طاعت والا هم زیات شي ، نو دغه طاعت کول بیا په خلکو آسان وي او کله چې کوم طاعت هیر شي او طاعت کوونکي هم کم شي، نو په خلکو دداسې طاعت کول سخت وي چې نور خلک یې نه کوي .

دریمه فائده: د ګناهګارانو او غافلو خلکو په منځ کې منفرد طاعت کوونکي په سبب د ټولو خلکو څخه بلاء دفع کیږي ، ګویا چې دا منفرد شخص ددوی ساتنه کوي او دداسې شخص په فضیلت کې شک نشته. لطائف المعارف ، ص:(۱۳۸)

همدا راز هغه وختونه چې خلک ورڅخه غافله وي ، د هغې قدر عظیم وي، ځکه خلک په عاداتو او شهواتو مشغوله وي او کله چې څوک په داسې وخت کې ځان په عبادت بوخت کړي چې خلک ورڅخه غافله وي ،نو دا ددې دلیل دی چې داسې شخص پر خیر باندې حریص دی. د همدې امله د سهار دلمانځه جماعت ته حاضریدل فضیلت زیات دی ځکه چې عام خلک ورڅخه غافله وي او دا شخص فضیلت طلب کوونکی دی او د ماخوستن د لمانځه جماعت ته د حاضریدلو فضیلت زیات دی او قیام اللیل ته د پاڅیدلو فضیلت زیات دی.

د حضرت عمار رضي الله عنه لُؤْلُؤَة وینزې به ویل،چې حضرت عمار رضي الله عنه به د شعبان روژو ته داسې ځان تیارولو لکه څرنګه چې به د رمضان روژو ته تیارول.

د حضرت عَمْرُو بْنُ قَيْسٍ الْمُلَائِي رحمه الله په اړه راځي چې کله به شعبان داخل شو ، هغه به دوکان بند کړ او ځان به یې په شعبان او رمضان کې د قرآن کریم تلاوت ته فارغه کړ. التبصرة لابن الجوزي (۲/ ۴۸)

**ب: الله تعالی ته د خلکو اعمال وړاندې کیږي:**

الله جل جلاله ته د بندګانو اعمال درې ځله پیش کیږي، په یوه شپه او ورځ کې دوه ځله ، بل په اونۍ (هفته) کې الله تعالی ته دوه ځله د بندګانو اعمال پیش کیږي او بل په کال کې یو ځل د بنده ګانو اعمال رب العزت ته پیش کیږي.

هغه چې په شپه او ورځ کې دوه ځله د بندګانو اعمال الله تعالی ته پیش کیږي . په حدیث شریف کې راځي.

عن أبى مُوسَى قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ فَقَالَ « يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ»صحيح مسلم (۱/ ۱۱۱)

ژباړه: د ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې نبي علیه السلام په مونږ کې په پنځو خبرو باندې ولاړ ؤ، ... او بل داچې پورته کیږي الله تعالی ته د شــپې عمل مخکې د ورځې د عمل څخه او د ورځې عمل الله تعالی ته پورته کیږي مخکې د شپې له عمل څخه.

بل په یوه جمعه کې الله تعالی ته دوه ځله د بندګانو اعمال وړاندې کیږي، د دوشنبې په ورځ او بل د پنجشنبې په ورځ کې.

په حدیث شریف کې راځي.عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ»صحیح مسلم (٨/ ١٢)

ژباړه: حضرـت ابوهریره رضي الله عنه د نبي علیه السـلام څخه روایت نقلوي چې نبي علیه الســلام وفرمایل: وړاندې کولی شي(الله تعالی ته) د خلکو اعمال په هره جمعه (هفته) کې دوه ځله ، یو ځل د دوشنبې په ورځ کې د بندګانو اعمال الله تعالی ته وړاندې کولی شي او بل د پنجشنبې په ورځ د بندګانو اعمال الله تعالی ته وړاندې کولی شي.

او بل په کال کې یو ځل د بندګانو اعمال الله تعالی ته وړاندې کولی شي چې هغه د شعبان په میاشت کې لکه د اسامه بن زید رضي الله عنه په حدیث کې چې راځي.

## د پنځلسم شعبان فضائل او اعمال:

د شعبان پنځلسم تاریخ په شریعت کې ځانګړې مقام لري او زیات فضیلت لري او پنځلسم شعبان کې د خلکو اجلونه او ارزاق لیکل کیږي.

پنځلسم د شعبان پنځلسم شپه او ورځ د نورو میاشتو په پنځلسم باندې زیات فضیلت لري او د شعبان د پنځلسم کې روژه نیول او شپه یې په عبادت او لمانځه باندې ژوندی کول د کال د عامو ورځو او شپو په نسبت زیات فضیلت لري.

د شعبان په پنځلسم تاریخ کې الله تعالی خپلو بندګانو ته خاصه توجه کوي او په دې ورځ او شپه کې د خلکو اجلونه او رزقونه ټاکل کیږي او الله تعالی په کې د بندګانو ګناهونه ببښي.

دشعبان پنځلسم فضیلت او برتري د قرآن کریم د آیت او احادیثو او دا رنګه د صحابه کرامو او تابعینو د اقوالو څخه ثابت دی.

**١-د قرآن کریم مبارک آیت** . الله تعالی فرمایلي دي: (فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ) الدخان:(۴)

ترجمه:په دغه (شپه )کې بیانوه شي بېلاوه شي هر کار حکمتناک (داسې ټینګ چې نه بدلیږي).

**د استدلال وجه:** د(فیها) څخه مراد د شعبان پنځلسم شپه ده.

ځینې مفسرین وایې چې د شعبان پنځلسمه شپه کې د کال فیصلې کیږي ، د ژوندیو عمرونه او د خلکو د مرګ نیټې فیصله کیږي.

عکرمه رحمه الله وایې چې د الله تعالی د دې آیت ( فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ) څخه د شعبان پنځلسم مراد دی او په دې تاریخ کې د ټول کال کارونه فیصله کیږي او څوک چې مړ کیږي او څوک ژوندی پاتې کیږي او څوک به حج کوي (دا په کې فیصله کیږي) او ددې څخه وروسته نه څوک په کې زیاتیږي او نه څوک کمیږي. تفسیر الطبري (٢٢/ ١٠)

**۲- نبوي احاديث:**

په احاديثو کې دپنځلسم شعبان په اړه زيات فضائل راغلي دي او د پنځلسم شعبان د شپې په ژوندی ساتلو او په دغه شپه کې په عبادت کولو او د شعبان د پنځلسم تاريخ د روژې د نيولو په اړه ترغيب راغلی دی .

د شعبان په پنځلسم کې د هغه چا نومونه ليکل کيږي چې په دې کال کې مړه کيږي،او داسې فرمايلي دي نو زه دا خوښ گڼم چې ماته زما اجل په داسې حال کې راشي چې زه روژه يم.

عن عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ. قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَحَبُّ الشُّهُورِ إِلَيْكَ أَنْ تَصُومَهُ شَعْبَانُ؟. قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ يَكْتُبُ عَلَى كُلِّ نَفْسٍ مَيِّتَةٍ تِلْكَ السَّنَةَ، فَأُحِبُّ أَنْ يَأْتِيَنِي أَجَلِي وَأَنَا صَائِمٌ». مسند أبي يعلى الموصلي (۸/ ۳۱۱) وحسَّنه المنذري والبوصيري.

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السلام به ټول شعبان روژه نيوله. عائشه رضي الله عنها وايې چې ما وويل ای دالله رسوله! آيا تاته غوره مياشت شعبان ده چې ته په کې روژه ونيسې؟ نبي عليه السلام راته وويل: بيشکه الله تعالی ليکي هر نفس چې په دغه کال کې وفات کيږي ، نو زه دا خوښه گڼم چې ماته زما اجل راشي په داسې حال کې چې زه روژه اوسم.

په ذکر شوي حديث کې راځي چې د شعبان المعظم په مياشت کې د خلکو اجلونه ليکل کيږي ، خو دا ذکر نه دي چې د شعبان په کوم تاريخ د خلکو اجلونه ليکل کيږي؟

د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث دا څرگندوي چې د شعبان په پنځلسم تاريخ کې د خلکو اجلونه او رزقونه ليکل کيږي.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي:(وَفِي الْحَدِيث دَلِيلٌ عَلَى فَضْل الصَّوْم فِي شَعْبَان) فتح الباري لابن حجر (٦/ ٢٣٨)

په يو حديث شريف کې راځي، چې الله جل جلاله بلاکيف د شعبان په پځلسمه شپه آسمان دنيا ته راښکته کيږي او گناهگارانو ته ببښنه کوي .په حديث شريف کې راځي.عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، فَقُومُوا لَيْلَهَا وَصُومُوا نَهَارَهَا، فَإِنَّ اللَّهَ يَنْزِلُ فِيهَا لِغُرُوبِ الشَّمْسِ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَقُولُ: أَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ لِي فَأَغْفِرَ لَهُ أَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَأَرْزُقَهُ أَلَا مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهُ أَلَا كَذَا أَلَا كَذَا، حَتَّى يَطْلُعَ الْفَجْرُ ». سنن ابن ماجه (١/ ٤٤٤)

ژباړه: د حضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت دی ،هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې د شعبان مياشت پنځلسمه شي، نو دغه شپه په عبادت ژوندی کړئ او د ورځې يي روژه ونيسئ. بيشکه الله جل جلاله په دغه شپه کې د لمر پريوتو څخه وروسته اسمان دنيا ته بلاکيف راښکته کيږي يا خپلو بندگانو ته خاصه توجه کوي او وايي : آيا څوک زما څخه د گناه ببښونکی شته چې زه ورته ببښنه وکړم؟ آيا څوک شته چې رزق وغواړي چې زه ورته رزق ورکړم ؟ آيا څوک شته چې په مرض مبتلا شوی وي چې زه ورته صحت ورکړم؟ آيا داسې څوک شته ، آيا داسې څوک شته؟ ترهغې پورې چې سهار شي.

په يو بل حديث شريف کې راځي. عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَخَرَجْتُ، فَإِذَا هُوَ بِالبَقِيعِ، فَقَالَ: «أَكُنْتِ تَخَافِينَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ»، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ، فَقَالَ: «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ غَنَمِ كَلْبٍ» سنن الترمذي ت شاكر (۳/ ۱۰۷)، مسند أحمد ط الرسالة (٤٣/ ١٤٧)، شرح السنة للبغوي (٤/ ١٢٦)،والدارقطني في "النزول"

ژباړه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي يوه شپه را څخه پيغمبرعليه السلام ورک شو، زه ورپسې ووتلم( هغه مې لټولو )، چې په جنة البقيع کې مې وموندلو دآسمان په لور يې خپل سر مبارک پورته کړی ؤ، پيغمبرعليه السلام وفرمايل: ای عائشې! آيا تا گمان کولو، چې الله او دهغه رسول به ستا په حق کې ظلم وکړي( چې ستا په نوبت کې به زه د بلی بی بی کورته تللی يم) ماورته وويل: ماته دا جائز نه ده چې تاسو ته دداسې څه نسبت وکړم. خو ما فکر کاوه چې تاسو به د بلی بي بي کورته د کوم کار لپاره ورغلي ياســت ( چې په حقيقت کې دا ظلم نه دی او په دې کې تاســو اختيار لری) ، بيا پيغمبرعليه الســلام وفرمايل: بيشکه الله تعالی د شعبان مياشت په نيمايي کې اسمان دنيا ته بلاکيف راښکته کيږي او د کلب قبيلې د رمې په شا د پرتو ويښتانو څخه زياتو کسانو ته ښښنه کوي.

د ابو موســـی اشــعري او عبدالله بن عمرو بن العاص او معاذ بن جبل رضي الله عنهم په روايت کې راځي: عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ:«إِنَّ اللَّهَ لَيَطَّلِعُ فِي لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، فَيَغْفِرُ لِجَمِيعِ خَلْقِهِ، إِلَّا لِمُشْرِكٍ أَوْ مُشَاحِنٍ». سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٢/ ٤٠٠)، مسند أحمد ط الرسالة (١١/ ٢١٧). صحيح ابن حبان (١٢/ ٤٨١). قال احمد شاکر: حديث صحيح بشواهده.

ژباړه: ابو موسی اشعري رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت نقلوي چې نبي عليه السلام وفرمايل:

بيشکه الله تعالی خپلو بندگانو ته په خپل رحمت سره تجلي کوي يا داچې بلاکيف (اسمان دنيا ته) راښکته کيږي د شعبان په پنځلسـم شپه ، نو ښښنه کوي خپلو بندگانو ته ما سوا د مشرک څخه او جگړه مار څخه. (يعنې هغه کس چې په زړه کې کينه ساتي او خلکو سره شخړې کوي).مرقاة المفاتيح (٤/ ٤٤٤)

وعن عائشـة رضي الله عنها أنها قالت: سـمعت النبي صـلى الله عليه وآله وسـلم يقول: «يَفْتَحُ اللهُ الْخَيْرَ فِي أَرْبَعِ لَيَالٍ: لَيْلَةِ الْأَضْحَى، وَالْفِطْرِ، وَلَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَان؛ يِنْسَخُ فِيهَا الْآجَالَ وَالْأَرْزَاقَ، وَيَكْتُبُ فِيهَا الْحَاجَّ، وَفِي لَيْلَةِ عَرَفَةَ إِلَى الْأَذَانِ»رواه الدارقطني في "غرائب مالك"، والخطيب في "الرواة عن مالك"، وابن الجوزي في "مثير العزم"، والديلمي في "الفردوس".

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم واوريدل چې وه يې فرمايل: په څلورو شپو کې الله تعالی خير خپروي : يو د لوی اختر په شپه کې او بل د کوچني اختر په شپه کې ، بل د شعبان په پنځلسمه شپه کې. په دغو شپو کې اجلونه ليکل کيږي او رزقونه ليکل کيږي او په دغو شپو کې حاجيان ليکل کيږي او څلورم د عرفې په شپه کې ليکل کيږي آن د سحر آذان پورې.

پورتني د ځينو احاديثو په سند کې يو څه ضعف شته ، خو د پنځلسم شعبان په فضيلت کې زيات احاديث او شواهد راغلي دي چې هغه لږ ضعف جبيره کوي.

دپنځلسم شعبان هغه بهتره شپه ده چې محدثينو په خپلو کتابونو کې د پنځلسم شعبان بابونه لږولي دي.

**٣- د شعبان د پنځلسم په اړه د صحابه کرامو اقوال:**

پنځلسم شعبان د فضيلت په هکله د صحابه کرامو څخه زيات فضائل نقل دي.

حضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت دی چې هغه به داسې فرمايل:(يُعْجِبُنِي أَنْ يُفَرِّغَ الرَّجُلُ نَفْسَهُ فِي أَرْبَعِ لَيَالٍ: لَيْلَةِ الْفِطْرِ، وَلَيْلَةِ الْأَضْحَى، وَلَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، وَأَوَّلِ لَيْلَةٍ مِنْ رَجَبٍ). التبصرة (٢/ ٢٠)ط. دار الکتب العلمية.

ژباړه: ماته ډیره غوره ښکاري چې انسان ځان په څلورو شپو کې د عبادت لپاره فارغ کړي چې یوه شپه د کوچني اختر ده ،بله د لوی اختر شپه ده او دریمه د شعبان پنځلسمه شپه ده او څلورمه درجب المرجب لومړنی شپه ده.

وعن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أنه قال:« خَمْسُ لَيَالٍ لَا يُرَدُّ فِيهِنَّ الدُّعَاءُ: لَيْلَةُ الْجُمُعَةِ، وَأَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ رَجَبٍ، وَلَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، وَلَيْلَتَيِ الْعِيدَيْنِ». مصنف عبد الرزاق الصنعاني (٤/ ٣١٧)، فضائل الأوقات للبيهقي (ص: ٣١١)

ژباړه:حضرت عبدالله بن عمربن الخطاب رضي الله عنه فرمايلي دي: پنځه شپې دي چې په دغو شپو کې دعاء نه مسترد کيږي. یوه د جمعې شپه ده ، بله د رجب المرجب لومړی شپه ده او بله د شعبان میاشت پنځلسمه شپه ده او دوه شپې د کوچني او لوی اختر شپې دي.

**۴-د شعبان المعظم د پنځلسم تاريخ د فضيلت په اړه د تابعينو رحمهم الله اقوال:**

حضرت عمر بن عبدالعزيزرحمه الله د بصرې عامل (والي) عدي بن ارطاة رح ته وليکل: ( أَنْ عَلَيْكَ بِأَرْبَعِ لَيَالٍ مِنَ السَّنَةِ؛ فَإِنَّ اللهَ يُفْرِغُ فِيهِنَّ الرَّحْمَةَ إِفْرَاغًا: أَوَّلِ لَيْلَةٍ مِنَ رَجَبٍ، وَلَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، وَلَيْلَةِ الفِطْرِ، وَلَيْلَةِ الْأَضْحَى). الترغيب والترهيب (٢/ ٣٩٣)، التبصرة لابن الجوزي (٢/ ٢٠-٢١).

ژباړه: په تاباندې د کال څلورو شپو اهتمام ساتل په کار دي ځکه چې ، بيشکه الله تعالی په دې شپو کې خپل رحمت خپروي په خاص ډول، چې هغه یوه د رجب لومړنی شپه ده او بله د شعبان د میاشتې پنځلسمه شپه ده او بله د کوچني اختر شپه ده او بله د لوی اختر شپه ده.

عن خَالِد بْن معدَان قَالَ: (خَمْسُ لَيَالٍ في السَّنَةِ؛ مَنْ وَاظَبَ عَلَيْهِن رَجَاءَ ثَوَابِهِنَّ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِنّ، أَدْخَلَهُ الله الْجَنَّةَ: أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ رَجَبٍ يَقُومُ لَيْلَهَا وَيَصُومُ نَهَارَهَا، وَلَيْلَةُ نِصْفِ شَعْبَانَ يَقُومُ لَيْلَهَا وَيَصُومُ نَهَارَهَا، وَلَيْلَةُ الْفِطْرِ يَقُومُ لَيْلَهَا وَيَصُومُ نَهَارَهَا، وَلَيْلَةُ الْأَضْحَى يَقُومُ لَيْلَهَا وَيَصُومُ نَهَارَهَا، وَلَيْلَةُ عَاشُورَاءَ يَقُومُ لَيْلَهَا وَيَصُومُ نَهَارَهَا). فضائل شهر رجب لأبي بكر الخلال ص:( ٧٥) ط .دار ابن حزم.

ژباړه: خالد بن معدان رحمه الله به ويل په کال کې پنځه شپه دي چاچې ور باندې اهتمام وکړ د ثواب په امید او ددې شپو د وعدو د تصدیق په بناء الله تعالی به یې جنت ته داخل کړي . یوه لومړنی شپه د رجب المرجب میاشت ده چې دغه شپه کې به عبادت کوي او د ورځې به په کې روژه نیسي- او بله د شعبان د میاشتې پنځلسمه شپه ده چې په دغه شپه کې به قیام اللیل کوي او د ورځې به روژه نیسي او بله د کوچني اختر شپه ده چې د شپې به یې قیام اللیل کوي او دورځې به روژه نیسي او بله د لوی اختر شپه ده چې د شپې به یې قیام اللیل کوي او دورځې به روژه نیسي.

**۵- د شعبان د میاشتې دپنځلسم تاريخ فضيلت د فقهاء کرامو له نظره.**

فقهاء کرامو هم د پنځلسم شعبان فضيلت بيان کړی دی.

امام ابن نجيم حنفي رحمه الله ليکلي دي:(وَمِنْ الْمَنْدُوبَاتِ إحْيَاءُ لَيَالِي الْعَشْرِ من رَمَضَانَ وَلَيْلَتَيْ الْعِيدَيْنِ وَلَيَالِي عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ وَلَيْلَةِ النِّصْفِ من شَعْبَانَ ...وَالْمُرَادُ بِإِحْيَاءِ اللَّيْلِ قِيَامُهُ وَظَاهِرُهُ الِاسْتِيعَابُ وَيَجُوزُ أَنْ يُرَادَ غَالِبُهُ.) البحر الرائق (٢/ ٥٦)

ژباړه: او د مستحبو له جملې څخه د رمضان المبارک د لسو شپو په عبادت ژوندۍ ساتل دي او د اخترونو دوه شپې په عبادت ژوندۍ ساتل دي او د ذوالحجې لومړنۍ لس شپې په عبادت ژوندۍ ساتل دي او بل د شعبان پنځلسمه شپه په عبادت ژوندۍ ساتل دي. د شپو په عبادت سره د ژوندۍ ساتلو څخه مراد په دغو شپو کې قيام الليل دى . ظاهره خو داده چې ټوله شپه قيام الليل وشي او دا هم جايز ده چې د شپې غالبه برخه قيام الليل وشي.

په دغو شپو کې په مسجدونو کې په اجتماعي ډول قيام الليل کول مکروه دي، بلکه لمونځ به په فرادى ډول کول وي. البحر الرائق (٢/ ٥٦)

ابن عابدين رحمه الله ليکلي دي: (وإحياء ليلة العيدين) الاولى ليلتي بالتثنية: أي ليلة عيد الفطر، وليلة عيد الاضحى. حاشية رد المحتار (٢/ ٢٧)

ژباړه: او (مستجب ده) په عبادت ژوندۍ ساتل شپه ددواړو اخترونو . په کار داسې وه چې لفظ د تثنيې ذکر شوى وى لکه (ليلتي)

يعنې شپه د کوچني اختر او شپه د لوى اختر.

علامه شرنبلالي په نورالايضاح کې ليکلي دي:( وندب إحياء ليالي العشر الأخير من رمضان وإحياء ليلتي العيدين وليالي عشر ذي الحجة وليلة النصف من شعبان) نور الإيضاح (ص: ٦٣)

ژباړه: او مستحب ده په عبادت ژوندۍ کول لس اخيري شپې د رمضان المبارک او مستحب دي په عبادت ژوندۍ کول دوه شپې د دوه اخترونو او لس لومړنۍ شپې د ذوالحجې او پنځلسمه شپه د شعبان المعظم.

علامه ابن الحاج مالکي ليکلي دي: د شعبان المعظم نصف (پنځلسمه) شپه د الله جل جلاله په نزد ډېره مبارکه شپه ده ، په دغه شپه کې د الله تعالى فيصلى کيږي.د شعبان پنځلسم شپه که څه هم دليلة القدر شپه نه ده خو خورا عظيمه او دخير څخه ډکه شپه ده. سلفو علماؤ او خلکو به ددې شپې ډېر درناوى کاوه او ددې شپې د راتللو څخه د مخه به ورته بدې را پورته کړې وې او کله به چې دا شپه راغله هغوى به ورته پوره امادګي نيولى وه. المدخل لابن الحاج

**اللهم بلِّغنا رمضان ونحن بأحسن حال من الدنيا والدين ، برحمتك يا أرحم الراحمين.**